# جمهوریت د خلقو ضرورت دے

رحمت شاه سائل

دا خبره د دې ملک اوولس کروړه خلقو منلې ده چې د دې ملک مستقبل د جمهوریت سره تړلے دے خو دا خبره هم د هر چا په علم کښې ده چې د اولې ورځې نه د جمهوریت خلاف په لویه پېمانه سازشونه هم شوي دي. دا د فکر خبره ده چې د مارشل لاګانو په نتیجه کښې راغلو ډېکټېټرانو، د سیاسي خلقو نه ډېر حکومتونه کړي دي او په سیاست کښې د یو جمهوري کلچر پېدا کېدو په ځائے ئې د خوشامدګرۍ او مفادپرستۍ کلچر ته وده ورکړې ده. د خلقو په نفسیاتو کښې ئې د یقین ترحده داسې ناروا رویې لویې کړې دي چې نه یواځې د خلقو د جمهوریت د کامیابۍ نه یقین پاځېدلے دے، بلکې هغه پټې او ښکاره خبرې د خلقو د یقین وړ ګرځېدلې دي چې څوک د خفیه اېجنسو نه علاوه د امریکې منظور نظر دے؟ دې رویو د عملي جدوجهد په ځائے په خلقو کښې د اسانې او ارزانې لارې خپلولو او د یو بل نه د مخکښې کېدو د منډې دپاره داسې هوس پېدا کړے دے چې دغه هوس اوس د هوښیارتیا او سیاست د ټولو نه لوئے معیار ګرځېدلے دے. دغې غېرمعیاره معیار د خلقو د جمهوري جدوجهد پۀ تصور او تصویر داسې ګردونه باد کړي دي چې اوس ئې په خپله هم نۀ پېژني. نن صورت حال دا دے چې کۀ یو ډکټېټر هره ناروا کوي، په کلونو کلونو ئې نۀ غېر جمهوري سستم ته خطره وي او نۀ غېر جمهوري حرکتونو ته. هغه چې کومه د اوړو پیشو جوړه کړې وي، په هغې هر هغه عمل کوي چې د ملک د آئین سره هم زیاتے کوي او د ملک د عوامو سره هم خو په هیڅ حالاتو کښې ورته هیڅ قسم خطر نۀ وي او لکه د غرۀ خپل مقام ولاړ وي او چې کله جمهوري دور راشي په یو کال نیم کښې داسې زلزلو ته مخامخ شي لکه چې نۀ دلته خلق شته او نۀ ئې رایې!

ډېره لرې خبره نۀ ده هم په دې میاشت کښې د ایم کیو ایم مشر الطاف حسین یو بیان ورکړو او داسې ئې هر څۀ وجړقول لکه ناڅاپه چې کومه قدرتي حادثه وشي، یا زلزله راشي او هر څۀ په حرکت مجبور کړي. پښتنو د ازادۍ د جدوجهد نه واخله تر ننه چې کوم جمهوري جدوجهد کړے دے، د هغې په حقله حبیب جالب وئیلي وو چې:

میرے کاروان مین شامل کوئی کم نظر نهین هے
جو نه مټ سکے وطن په میرا همسفر نهین هے

خو نن خو صورت حال دا دے چې یو طرفته پښتانۀ د موجوده جمهوري قوتونو نه کۀ یو طرف

ته کېږي نو دا ممکنه نۀ ده ځکه چې هغوي په دغه اتحادونو کښې هم د مستحکم جمهوريت د پاره په خلقو کښې جمهوري رويې پېدا کړي او د نورو نه د حقونو تروړلو د روايت په ځائې پکښې د حقونو ورکولو صلاحيتونه پېدا کړي.

ځنې پارټۍ چې طمع توقع ترې کېږي، هغوي له پکار دي چې د دې موجوده سستم د بچ کولو سره سره د جمهوريت په هغو ټولو معنو غور او فکر وکړي. د کومو تعلق چې د عامو خلقو د مفاداتو سره وي، په عمل کښې داسې قدمونه اخستل پکار دي چې د خلقو او سياست يا سياست دانانو ترمنځه پېدا شوې فاصلې راکمې کړي، ګني کۀ د خلقو رايې هم دغسې په مسلسل ډول د څۀ بدلون دپاره هيڅ معنيٰ ونۀ لري نو ظاهره ده چې سازشونو او غېر جمهوري عمل ته به واپس لاره هوارېږي.



دا خبره د منلو ده چې په موجوده وخت کښې چې د شدت پسندۍ چپو خلق په سر اخستې دے، بې روزګاري، ګراني، د خوراک او ژوند ژواک د نورو ځيزونو بحرانونو، کرپشنونو او بد عنوانو عام خلق د ځان او جهانه بې ګانه کړي دي او د هر چا نه ئې د خپل اجتماعيت سوچ او فکر تروړلي دي خو د دې ټولو مشکلاتو باوجود دا خبره د ياد ساتلو ده چې په موجوده وخت کښې چې د کوم مضبوط جمهوري نظام ضرورت دے، دومره په خوا کله هم نۀ وو. د دغې ضرورت په جولۍ کښې خلقو خپله برخه اچولې ده. سياسي مشران دغه جولۍ ته د خپله طرفه څۀ وراچولے شي کنه. هم دا د هغوي د ازمېښت وخت دے، نن د ملک ذمه دار قيادت له نۀ يوازې موجوده نظام بچ کول پکار دي بلکې د دغې نظام چې کومې سرچينې دي هغه د ژوند په هر اړخ کښې رواني تاندې ساتل هم دي چې عام خلق ترې استفادې وکړې شي کۀ نۀ وي او دا ځل دغه جمهوري نظام ناکام شو نو سبانے انتشار به کېدے شي ډېر بې قابو وي.

بايد چې نننے قيادت په دې هم فکر وکړي چې نننے سياست ولې د عامو خلقو د شرکت او مفاداتو نه دومره ډېر لوړ شوے دے او ولې د خلقو او سياستونو او سياست دانانو ترمنځه فاصلې د خطرناک حده پورې زياتې شوې دي. دا هر څۀ به نور د خُلې په خبرو او ماهرانه تبصرو ونۀ شي. د ژوند هره هره څانګه کښې به د جمهوريت ټولې معنې عملي کول ضروري وي ځکه چې دلته کۀ جمهوريت ته چا وينې ورکړې، هغه هم د دې خاورې رښتوني بچي دي او د خپلو ټولو بنيادي حقونو حقداران دي.